5/1961
Kandhar
۱۳۴۰
۲

# کندهار

دښاغلی سردار محمد داود صدر اعظم دپوره صحت موندلو پاوجه دزړه له کومی
خوشحالی کوی او ددوی خدمتونه دهیواد د اقتصادی او کلتوری پرمخ تګونو
په لار کښی دهر ډول ستاینی وړ بولی .

د «عمرزی» ټولونه

# پېغله

د زلماتابی راغلی دی پر جنډ بو
لکه «پېغله» غوټۍ کاندی مکیزونه

---

پښتو نخوا ښکلی ځلمی چه ځغلی هند ته
نو آغلیه «پېغلی» کاندی اټنونه
(ښکارندوی)

---

چه نجلیو په نڅا پـه کی خند له
چه به «پېغلو» کا اتڼ قطار قطار
(شیخ اسعد سوری)

---

ټیک ونته غوږ والی دی که پیزوان دی
زه «پېغلی» په پسول کی ډېر مین یم برچار گل
(محمد امان)

---

لوی اوو ورته گل په ډکه خوا لگۍ خاندی
دچمن د «پېغلو» به زده مکیزونه
(مجروح)

---

بیائې وڅکل له کم خو مه ډک جامو نه
دا دهسک پېغله چه نا څی له جنو نه
(ښوا)

---

دغرزو پر کوران د «پېغلو» روغ دی
که دښکلو زر کو راغله کتارو نه

---

دا نڅا د «پېغلو» نجونو پر مرغه ده ؟
که کبلی پر سبزه زار وهی تو پو نه

---

امر سپوږمۍ ئې هم له هسکه سیل کاندی
پښتنې «پېغلی» چه کاندی اټنو نه
(حبیبی)

---

په خندا غوټۍ خوره شوه باغ ته ولاړه
په شان شان کوی د «پېغلو» مکیزونه
(رښتین)

د کندهار د مجلی دوهمه گڼه

LIBRARY OF CONGRESS
ISLAMABAD OFFICE
1 8 MAR 2005
6 ...UATION 6

# کندهـــــار

میاشتنی خپرونه

ادبی، تاریخی، اجتماعی، علمی

مسئول چلوونکی:- ا، م «کرزی»

اداره دهرات دروازه «ددولتی مطبعې څنګ ته»

بیه :— په کندهار کښې [۲۸] افغانۍ
په دننه مملکت کښې [۳۲] «
په دباندنیو مملکتو کښې [یو دالر]

دلمرنی ۱۳٤۰ کال دغبرګولی [۱]
دمیلادی ۱۹٦۱ کال دا پریل «۲۱»

ددو هم کال دوهمه ګڼه
پرله پسی ۱٤ «

Microfilm(o)
2011/58519

Library of Congress
2011 327093

# د کندهار مجلې

## دمضامینو فهرست


| عنوان | لیکونکی | مخ |
|---|---|---|
| د کندهار ټوپونکو سره | ښاغلی «کرزی» | (۱) |
| معاصری پښتو نه . . . . | « «هاتف» | (۳) |
| د کندهار د بېلتون کوکاری | « «ویران» | (۷) |
| دنیکه زغ | « «طالب» | (۹) |
| چینی ادب | د « «پالوال» ژباړه | (۱۱) |
| سیارات دوی ولی دی | د « «آشنا» ژباړه | (۱۵) |
| الکساندر . . . . | ( . ) | (۱۷) |
| غوره وینا وی | ( . ) | (۲۱) |
| دروسی او پښتو . . . . | « «نجیب» | (۲۲) |
| ژو : نظم | « «بریالی» | (۲۲) |
| د کندهار چهل زینه | ( . ) | (۲۳) |
| له خپلی لور سره . . . . | د « «کارگر» ژباړه | (۲٤) |
| د پښتو ځینی دودونه | « «کرزی» | (۲۵) |
| کورنی اودباندنی | مهم خبرونه | (۲۷) |
| تاریخ څه شی دی ؟ | د « «بخرکی» ژباړه | (۲۹) |

# « د کندهار دویونکو سره »

تعامل داسی ذی چی دمجلو او ور ځپاڼو نوی چلونکی د کار له شروع څخه د خپلی نشریې دخپرونو په موضوع کښی خپل هدف څرګندوی او دراتلونکی نشریاتو دپاره لار اولیکه تاکی . لیکن زما سره څه خاص فکر موجود نشته بلکه زه به هغه لاروپالم کوم چه پخوا تر دې ښاغلی محمد ولی « ځلمی » او د کندهار دمجلی منور ادیبان او قلمي ملګری پرهغه لار تللی دی .

دمجلې هدف څرګند او د خپرونو لار ئې روښانه ده څرنګه چه دمجلی عنوان « کندهار » تاکل شویدی نو ځکه باید دامجله د کندهار د کلتور ترجمانی وکړی .

خو یوه خبره چه نن سبا د قومونو په نزد ډیر ارزښت لری هغه به خپله دقوم اقتصادی او فکری ارتقا ده . درسته ده چه ژبه باید وپالل شی او دتاریخ تیاره اړخونه روښانه شی لیکن که په قوم کښی د ذهن او د ماغ روښنائی موجوده نه وی ښائي چه دخپل ادب او ژبی څخه دی په زړه پوری استفاده ونه کړای شی .

موږ دتاریخی څیړنو په ترڅ کښی دداسی قومونو دژوند سره مخامخ شوی یو چه ژبه او

ادب ئې ډېر مترقی شوی وو خو کله چه دقوم ذهنی معیار راکښته شوی او په راز ، راز اجتماعی بدبختیو اخته شوی دی نو بیا د خپل عالی ادب او کاملی ژبی سره دانحطاط وکندی ته لویدلی دی اوداهم ثابته خبره دة چه ژوندی قوم ژوندی ژبه په وجود راوستلای شی اوهم له هغه څخه استفاده کولای شی .

که دیوه ولس قومی شېرازه شلېدلی او پر دماغ ئې تور پیڅول ځړیدلی وی نو هغه هیڅ کله نه سالم فکر کولای شی او نه دواقعیت سره برابر تصویر تخلیقولای شی .

روغ ادب هغه وخت منځ ته راتلای شی چه قوم روغ اوفکر له مو هوماتو څخه آزاد وی نوخود به زموږ سره دافکر وی چه د ادب او ژبی دڅېړنو سره به دولس دذهنی تنور په لار کښی هم زیار باسو .

په دې کښی شك نشته چه موږ به دخپل لرغونی کلتور درا ژوندی کیدو د پاره زیار باسو خوهو دزمانی تقاضا هم هېر ولای نه شو زموږ سره به دانتقاد اوتبصرې نظر موجود وی او د واقعیت پسندی پرلاری به درومو کومی ادبی خپرونی چه موږ دارتقا په لوری خوځولای شی یا په موږ کښی مترقی فکر تخلیقولای سی هغه به موږ ته گرانی وی او موږ به زیار باسو چه د خپل هیواد د اقتصادی او اجتماعی نهضتونو دتجدد په لړ کښی دنوی فکر اونوی ادب هم خاوندان شو څو مو فکری او مدنی حرکت متوازن وی .

او دراتلونکی نسل د پاره مو یوه روښانه او مثبته لار پرانیستلې وی .

په پای کښی د ښاغلی محمد ولی «ځلمی» دمجلی دپخوانی چلوونکی هغه زحمتونه یادوم چه په یوه سر سره ئې سر بېره پر اداری چارو اودور ځپاڼی پررا ایستلو میاشتنۍ مجله هم خپر وله .

او د کندهار دملگرو لیکوالو څخه هیله کوم چه دمجلی په چلو ولو کښی ما یوازی پرې نږدی په درناوی .

ا ، م کرزی

ښاغلی عبدالرحیم «هاتف»

# معاصری پښتو ته

## یو انتقادی نظر

ښاغلی د کندهار دمجلی چلونکی !

فاضل «نومیالی» ذیوه خصوصی لیك په ترڅ کی زه دې ته رابللی یم چه دیوی مشخصی موضوع په شاوخوا کی خپل شخصی نظر ښکاره کم نو که چیری داڅو کرښی ستاسی ددرنې مجلی له حوصلی څخه وتلی نه وی لطفاً به ئې نشر کی .

که څه هم زه لیکوال نه یم او ددوستانو دقول په استناد زما دلیك ژبه درنه او گنگه ده ، خو پښتو ماته ایمانی حیثیت لری او کله چه ددې ایمانیاتو څیړنه منځ ته راسی له خپله وا که سره سم پر هغه ږغیده خپله فریضه گڼم ، او ددې فرض ترك ته نسم حاضر یدای ، پر دغه اساس له دې څخه چه د کندهار مجلی ژبنیو څیړنو او پلټنو ته هم مخ ور کړیدی غواړم چه خپله خوشالی ښکاره کم .

په هر صورت هغه موضوع چه ښاغلی «نومیالی» ئې زه څیړنی ته رابللی یم د (شو-سو)، (کښی-کی) (احمدته - واحمدته) داملاگانو صحیح شکل دی چه زه غواړم تر لږ تفصیل وروسته خپل نظر پدې باره کی عرض کړم .

### ژبه دانکشاف په حال کی :-

له بده مرغه موږ هم ذنورو په تعقیب دقدامت پسندی په وبائې مرض مصاب یو . هر شی زوړ خوښوو . زړه مځکه ، زوړ آسمان ، زاړه دودونه زوړ تاریخ او زړه ژبه ، ترموږ پخوا دې وبا نور هم ډیر ښکار کړیدی . خو زه چه وایم هر زوړ شی خوښول سربیره پردی چه دډیری گټی تضمین نسی کولای کله کله دداسی موضوعاتو اثبات دتحقیق پر اوږو هم خورا درانه پیټی حواله کوی چه د هغو تر څکولو په هر صورت داډیره ښه ده چه دورځنی ژوند دانکشاف لارهواره کړه سی .

زوړ تاریخ طبعاً داقوامو پر نضج اورسیدلو دلالت کوی او دؤلسونو ذوق او فهم څرگندوی او دملت دتوحید نظر په میدانو او دملی مفاخرو په احیا کی ښکاره رول لو بوی .

برخلاف ژبه دنورو اجتماعی موسسو په توگه

اوتر هغه حکم لاندی ، وړو کتوب ، ځوانی ، کهولت او اندراس تیروی نو هغه محترم ذوات چه د پښتو د خورا زړتیا اثبات ته ډډه کوی او دلبزو اسنادو په اتکا داوږدو پیړیو ادعالری ؛ آیا غواړی چه نور نو دا ځوانه اوله ژونده د کة ژبه د اندراس منګلو ته وسپاری ؟ زما په ګمان که د یوی ژبی تاریخی مفاخر دهغی د اندراس په بیه تمام سی . د ګټی سودا به نه وی .

ښائی چه زما له دې نظره سره دی علمی محافل موافق ناوی ، خو زه د خپلی دغی مفکوری د اثبات لپاره صرف دغه یو دلیل وایم ، چه د ژبې د قدامت سره د دې وروستو شلو کلو سعی لا نراوسه د چاؤ چا په قول ژبی ته د رسمیت صلاحیت ندی ورکړی .

که چیری دغه ادعا صحت ولری نو زما خبره ئې چه د ژبی د رانلونکی انکشاف په منظور کار کول د ژبی د تاریخ تر روښانو ولو ډیر سود من بولم په تبع کی اثبات ته رسیږی - او زه ډاډه یم چه زما پیشنهادی شکل ډیر انډیوالان او همکاران راجلبولای سی .

په هر صورت و موویل چه ژبه د ژوندی ذراتو او نورو بشری موسساتو په دود خپل طبیعی انکشافی سیر ته دوام ورکوی ، نو که چیری د انسان لاس د دې انکشاف توقیف ته وراوږدسی امکان لری چه موقتی اغیزه دی و کی له بلی خوا که د ژبی د سیر په تسریع کی بیځایه ګوتی ووهل سی نو د بدو نتائجو ترقیب به بی مورده نه وی ، لکه پر ځای مداخله چه واقعاً د ژبی دوړاندی تګ منازل لنډولای سی .

## د ژبی د طبیعی انکشاف حکمیت :-

څو کرښی وړاندی می عرض و کی چه ژبه د نورو انسانی موسسو په توګه خپل انکشافی سیر ته په ټپره ادامه ورکوی - خو ژبه یوازی دهغی تولنی انحصاری مال نه دی چه په هغه کی لفظی لوبی کوی بلکه اساساً ژبه د ټول ولس چه په هغه ګړیږی مشترك او مشاع مال دی او ژبنی تصرفات که د ټول ولس له خوا نه وی نو اقلاً هغه تصرفات ځای نیسی چه ولس ئې و منلای سی او ټولی هغه لاس وهنی چه ولسی قبول پیدا نه کی د کاغذ او قلم تر منځ د اسرارو حیثیت مومی چه تر عامی محاوری او عامیانه ژبی (چه حقیقی ژبه ده) پوری نه رسیږی ، زما په ګمان د ژبی حقیقی ښه په عامیانه کلام کی څرګندیږی او د یوی ژبی د قوت او ضعف دلیل پر مستبعد ادب په پنډو ادبی ذخیرو کی نه بلکه ؤلسی اشتقاق د تصریف په دوران کی باید ولټول سی .

نو که اوس څوك زیارو باسی چه متروك اشتقاقات بیا ولسی دوران ته وراچوی بیځایه خپل نوم باسی او دا کوشش تر محدودی ادبی ساحی وړاندی ګام نسی ایښووای .

تر دې مختصری مقدمی وروسته به ښاغلی

ویونکی ممکن زما د نظر ئی په تعقیب کی ډیر مشکلات ونه لری .

## د پښتو ټولنی تصویبونه او محاوروی ژبه :-

پښتو ټولنه چه د پښتو اکډیمی حیثیت لری او د علمی محافلو په نظر کی ئی احترام محقق دی د پښتو د رسم الخط په باره کی ئې له یخوا څخه د قدر وړ تصویبونه کړی دی چه لیکوالو د هغو رعایت په خپله اندازه ساتلی دی ، خو څرنګه چه وویل سوه دا تصویبونه او قرار دادونه صرف د رسم الخط د توحید په باره کی دی او جنبه ئې هم توصیوی ده ، څه خاصی حکم نامې نه دی چه د صحت وخطا معیار وګرزیدای سی یو له هغو تصویبا تو څخه د (شو-اوسو) په باب کی دی چه (شو) ته ئې په لیکلو کښی تر (سو) ترجیح ورکړیده د ترجیح وجه ئې ما ته په یقینی صورت نه ده ښکاره که چیری د (سو) څخه انصراف د هغه التباس د معنی په وجه وی چه له (سول) (او راخیستل) سره ئې امکان سته نو دا پر امکانا تو قسم اخیستل خو څه اصولی کار نه دی او په طبیعی جریان کی دا التباس قطعاً د شذوذ حکم لری ، که څوک اوس په لاس یو داسی مثال وسکنی چه التباس ته مفضی سی نو دا بیا د فقهی د هغو بعید و فرضیو شکل اخلی چه تاوان ئې تر ګټی ډیر دی او نتیجه ئې دوخت ضیاع ده (شو او سو) دواړه په ژبه کی علی السویه تداول لری او په خپله په ژبه کی د یوه د رجحان وجه پر بل نسته او زما په نظر کی هم داسی شی نه راځی چه د یوه لپاره بل باید وغورځول سی ، نه زه کم داسی بیینه لرم چه د هغی پر اساس کم یو غلط او ها بل صحیح و بللای سم .

## کښی - کی :-

په دې دوو شکلو کښی هم لمړی شکل د پښتو ټولنی مصوب شکل دی . خو زه پخپله له دې شکله سره پوره موافقه نلرم او پر هغه اساس چه په ژبه کی حکمیت صرف عامی محاوری ته سپارم ، پر دې می زړه هم ډیر نه ریږدی چه (کښی) غلط و بولم زه چه له ډیرو پښتنو سره چه مختلفی لهجی وائې مخامخ سوی یم خو (کښی) ته ورته لفظ می یا ارویدلی نه دی یا که چیری غوږ ته راغلی هم وی دونه لږ ئې بولم چه اوس می حافظه د هغه اعادی ته حاضریدلای نسی نو د اختصار او تداول په حکم دوهم شکل ډیر صحیح ګڼم .

## احمد ته و احمد ته :-

په پښتو کی بعضی مجرورات دوه د جر توری اخلی یعنی بعضی مجرورات د سابق او لاحق جری حروفو په منځ کی راځی لکه :- په - کور - کی له - کوره - څخه ، د - احمد - سره ، و - احمد ته په څلورو مثالو کی تاسی وینی چه مجرور د خپلو جری تورو په منځ کی راغلی وی . خو د پښتو په مختلفو محاورو او لهجو کی متفاوت استعمال لری .

مثلاً دننګرهار دخوا پښتانه کله کله د لومړی جر په اسقاط د جری ترکیب تلفظ کوی مثلا احمد می پټی کی ولید - پټی ته راغلم ، احمد سره می وکتل - احمد ته می وویل .

په کندهار کی عموماً پورته جری توری خپل مجرورات له دؤ خوا ؤ څخه په غیبز نیسی که څه هم دیوه په استناد بل شکل غلط نه سو بللای خو دلته بیا هم زما په نظر یوه دیادولو وړ خبره سته او هغه داچه په و - ته - کی زما په ګمان مرتقی او انکشافی شکل د لومړی جر اسقاط دی ، اودا پر څو فرضیو او تخمیناتو بنا بولم پدې شکل :

زموږ په ژبه کی ډیر دجر توری سته خو جری ترکیبونه هرومرو په دوه جره نه جوړیږی ځینی ترکیبونه یوازی دجر توری اخلی او ځینی نور بیا د پورته مثالو په توګه ودؤو تورو ته ضرورت پیدا کوی ، که چیری په دغسی مواردو کی قیاس ته اجازه وی نوزه غواړم چه دا سی استنتاج وکړم چه جری ترکیبونه چه په دؤ جری تورو جوړیږی موږ ته دژبی پخوانی شکل راښیئی چه تر ډیری اندازی په کندهار کی خوندی پاته دی . خو اوسنی عام تمایل دې ته ډیروی چه جری ترکیب په (و-ته) کی پر یوازی (ته) جوړسی او پردی شی لرو بره پښتو یو رنګه دسابق جر اسقاط ته مایله ښکاری .

قدیم متون که څه هم دعامی محاوری په سر اهمیت نه لری - هم دسابق جر په اسقاط شاهدی ور کوی لکه محمد هوتک چه د پټی خزانی په فاتحه کی لیکی (حمد و ثنا ده هغه خدای ته چه انسان ئې په ژبه او بیان لوړ کا (یوه کرښه وروسته بیا لیکی (ستاینه او سپاس دی هغه خاوند لره) چه دلته (لره) د (ته) په عوض کی راغلی دی ، بل ځای په (۱۱۳) مخ کی لیکی (پادشاه عالم پناه ژړ زعفرانی شال ور کا او پدغه مجلس ئې تولو حاضرینو ته شالونه وښندل) لکه چه وینئی علاوه د (و) پر اسقاط دلته (کی) هم نه لیدل کیږی .

اودغه دیوه جر اسقاط - (کله سابق ، کله لاحق) په بعضو مواردو کی دا باحت حکم لری لکه «تر-پوری» ، «پر-باندی» چه پدی مثالو کی دوهم جر کله لویږی کله ویل کیږی عینا دغه حیثیت دی د «و-ته» چه سابق جر ډیر محله له وینا څخه غورځول کیږی ، له بله پلوه په لیکنو کی کله کله دیوه جر په جری ترکیب کی دمطلب افاده روښانه نه راځی - نو کله چه دمطلب ایضاح دا ایجاب کی چه په دوه توری دی دا ترکیب ولیکل سی هلته خو څه دویلو ځای نه پاتیږی ، که نه نوزما د هغه اصل له رویه چه په ژبه کی حکمیت دعام تمایل او عامی محاوری په لاس کی بولم مرجح شکل دغه راز ښکاری چه د «و-ته» پر ځای دا ترکیبونه یوازی په «ته» ولیکل شی .

زما ددغو کرښو مطلب په یوه جمله کی دغه دی چه محاوره باید درسم الخط تر توحید جار نسی خصوصا په هغو ځایو کی چه مطلب هم خلل نه اخلی .

داؤو چه دښاغلی نومیالی په غوښتنه می دا څو کرښی ولیکلی پداسی حال کی چه اوس هم نه پوهیږ چه ددوی دمطلب تردید به می کړی وی که تائید خو که ژوندؤ اوداسی مطالب ستاسی دموقری مجلی په حوصله کی وه بیا به هم ګډون کوم .

# د کندهار د بیلتون کوکاری

ښاغلی (ویران)

دامی زړه ته نه لویږی چه دهیواد دوستی احساسات دی په چاکی نه وی ، پداسی حال کی چه مرغان او نور حیوانان هم ځنی خلاص نه دی دا ولی ؟

اجتماعی پوهان خو وائي چه د اجتماع او ټولنی مرکز وطن وی هلته د سړی خپلوان او د ژوند گران ملگری اوسی نو ټولنه چه د ژوندون بنیاد دی په هیواد کی جوړیږی ځکه نو د هیواد گرانښت په انسان کی طبیعی سوی دی .

دا خبره سړی هغه وخت ښه حسولای سی چه څو ورځی د هیواد څخه ستر گی نها می کړی ، په بیگانه هیواد کی چه هر څه په نعمتو کی سړی غرق وی خو د وطن خاوره ، دوستان او نور هر څه ئي وستر گونه جگ ولاړ او زړه ئي په بندوی لکه پیاوړی شاعر خوشال خان چه وائي :-

چه سړی او به دغره نسته په هند کی
تري توبه که واړه ډك وی له نعیمه
خدایه زړه می په وصال د هغو خوش کړی
دا چه اوس ورځنی لیری دی دوه نیمه
همیشه به په هند نه اوسی ( خوشاله )
عاقبت به عاصي وزی له جحیمه

یا لکه زموږ بل پښتون شاعر خواجه رزق الله چه وائي :-

خوار غریب او بی نوا وای
خو وطنه ستا په خوا وای
میشته خوش یم په وطن کی
نه چه هند واړه زما وای
څو ژوندی یمه تر مرگه
هم هاغه آب وهوا وای

یا لکه پښتون شهنشاه لوی احمد شاه بابا چه وائي :-

د زړه فریاد می له جدائي
اورمی ورك نه سی داشنائي
چه پر وطن وی زړه څه قرار وی
یم بی طاقته له پردیسی

نورو هم ډیرو د هیواد د بیلتون کوکاری وهلی او خپل گران هیواد ئی په ډیر ارمان یاد کړی دی لکه دالاندنی پښتانه پردیسان چه د کندهار څخه لیری سویدی او همدغه خپل کندهار یادوی :

۱- فتح خان بریڅی چه ژوندون ئي د ۹۰۰ هـ کال په شاوخوا کی اتکل کیدای سی کله

چه په هند کی دی کندهار داسی یادوی :
کنه پاخه دی کندهار انار پاخه دی

اسلم خان بابادی خوری پرماترخه دی

۲- عبدالرحیم هوتك :- په ۱۱۵۰ کال کی کله چه نادر افشار کندهار خراب کی د هیواده وؤت او بخارا ته ولاړ هلته ده د کندهار د بیلتون کوکاری داسی کړیدی :-

زه رحیم په بخارا کی ارزو کړم
که می خدای کړی پر بلاد د کندهار گډ

یا داچه :-

بخارا او سمر قند می زړه زخمی کړ
غواړم پاڅم په زیارت د کندهار

یاداچه :-

ښایسته کندهار ډیر ډیر یادومه
نه هیر پیږی که هر څوئی هیرومه
خصوصاً دارغنداو او باغ ولو نه
زړه می غورځی بی طاقته سم ندرمه
سرپوزه او کاغانك چه په زړه راسی
اورمی واخلی پر ځان پیك وښورومه
کوکران او گندیگان د خدای په حکم
څه فیضونه باندی اوری کی شمیرمه
یودم کښېنه په ایوان د چل زینو کښی
تماشاو کړه چه زړه دی سی بې غمه
ماهم یاد کړه که دی خدای کړی برخه لویه
چه غریب په بخارا کی یم له غمه

۳- خدایداد (جدید) د شاه محمود سدوزی په پاچهی کی ژوندی ؤ په ۱۲۴۷ ق کال ئې هرات ته سفر کړیدی او هورې پسی پاته سوی دی دی سړې د کندهار دلیری والی ناری داسی وهلی دی .

نه به وی نه به پیداسی کندهار غوندی ولات
اوس ارمان می دی یارانو هیر بی نکړم په حیات

یا دا چه :-

اوس ارمان می کندهار دی
کندهار نه دی گلزار دی

٤- شیر محمد د ۱۳۰۰ کال په شاوخوا کی ئې ژوند تخمینولای سو داسړی له کندهاره تللی دی او کندهار داسی یادوی .

نن می بیا په نیت نیولی کندهار دی
له هراته می خراب زړه تار په تار دی
ښه دیدن می دیارانو سره وکړی
دغه خواست می خدایه تا ته په تلوار دی
دیارانو په دیدن می خواسړه کړې
زمار به دامی خواست لیل و نهار دی

۵- شمس الدین کاکړ د کلچابات هم په هندوستان کی په خپل وطن (کندهار) پسی ناری او کوکاری وهلی دی که څه هم داسړی د مخه تر هغه چه د کندهاره ووزی د کندهار څخه شکایت لری لکه داچه :-

نن خپل زړه راته ویل کندهار پریږده
دخزان له ظلم ؤ جوره گلزار پریږده

نو خدای (ج) خبر چه شمس الدین ته به څه مصیبت پیښ ؤ خو دلته یوه قاعده سته چه فکر مو قبض سی نو هر څه غندو ښائې چه شمس الدین ته به هم یوه واقعه پیښه وه چه کندهار پریږدی، خو کله چه دهمدغه کندهار بیلتون وینی بیا ناری وهی .

مدام ژړا کړم په ناری ناری
یارمی یاد یږی وهم کوکاری
دهند ځنگلی راته قفس سوی
ورکی له ماسوی دوطن لاری

یاداچه :-

برائې می خوب لیدی چه مخ پر کور محم
په هوس لکه بلبل د باغ پر اور محم

ښاغلی محمد حسین (طالب) کندهاری

# «د نیکه بزغ»

ژمی ولاړی شپه شوه تیره لوی سحار شو
وخت د عیش ؤ عشرت راغی نو بهار شو
بوستان موج وهی د ګل، باغ ټول ګلزار شو
د بلبلو په چمن کښی چو نهار شو
چه یارانو وخت د ګل دی ښه بهار دی
د هجران شپه شوله تیره نن مو وار دی

سحر ګاه وه نسیم راغی شیدا ئې شوم
دیار بوی راباندی ونښت سو دائې شوم
د بلبل په څیر په غم د جدا ئې شوم
مخ می ونیو وصحرا نه صحرائې شوم
په ژړا او په افسوس لکه مجنون
هری خوا نه کر زیدم په زړه زبون

د بیلتون غم می په زړه باندی چاپیر شو
ټپی زړه می په غمو د جانان زیر شو
د دلدار د فراق غم راباندی ډیر شو
نو بهار ؤ باغ ؤ ګل می توله هیر شو
نو می مخ کړ د نیکه د قبر وخوا نه
په ژړا می شروع وکړه دې وینا نه

نیکه جانه ! د جانان غمو خراب کړم
نیکه جانه ! دهجران لمبو کباب کړم
رقیبا نو په بیغور ډیر په عذاب کړم
رو بیاری د بهګا نه خلکو تراب کړم
پدې فکر کښی خورا په زړه افګار یو
چه دا یا نه ولی دا سی له اغیار یو ؟

عاشقان د نر قسی د خپل وطن یو
پر وطن باندی موږ تیر ترسر ؤ تن یو
پښتانه یو ، غیرتمن ، ستاسی زامن یو
پر دا خپله خرا به مینه ، مین یو
څه به کړو چه دا دریاب رانه ساحل سی
د لورتیا د محبوب وصل را حاصل سی

نیکه ږغ دحال په ژبه کړه له گوره
چه پښتو نه اي زما د ستر گو تو ره
که دعیش پیمانه ، نه غواړی نسکوره
زموږ اعمال دځان سرمشق که تاریخ گوره
چه تر کومی اندازی موقدرؤ شان ؤ
په غیرت او شجاعت مو نوم نښان ؤ

دافغان نوم په تمام جهان کښی خپور ؤ
و دښمن ته معلوم شوی زموږ زور ؤ
فتوحات مو له ایران تر لاهور ؤ
بخارا مو په اختیار لکه خپل ورور ؤ
ور کول مو پر وطن باندی سرو نه
په غیرت مو لاندی کړی وه ملکو نه

چه ناره به مو د ننگ افغانی کړه
یادجنگ پرمیدان موږ پهلوانی کړه
سر ؤ مال به مو تر مېنی قربانی کړه
پر دښمن به مو ترخه زندگانی کړه
پد غه صورت مو وساتی وطن خپل
اوبه کړی مو په وینو دی گلشن خپل

اوس وتا سو ته زا منو انتظار یو
منتظر د ترقی ددی کوهسار یو
په قبرو کښی د وطن په غم افگار یو
که همت وکړی نو ستاسی منت بار یو
گوندی داخرابه خو نه مو گلشن سی
کارخانی پکښی بناد علم ؤ فن سی

نه مو تر لری دځان نه مو ژیپلین شته
نه موریل شته نه موتوپ دهژده پن شته
نه بالون شته نه بایسکل نه بالازن شته
کار اوراق دی نه دوسیه نه کارتن شته
دالا پر یږدی ءچه تار نه لری ءستن نه شته
دخپل لاس مو کالی نه شته کفن نه شته

با غیرت زامنو ! لږ څه غیرت وکړی
یو ؤ بل ته په اخلاص نصیحت وکړی
دوطن په ودانی کښی زحمت وکړی
غیرت وکړی ،غیرت وکړی همت وکړی
دا وطن مو هم زانگو هم کور ،هم گوردی
که خراب سی یا برهم څومره پیغوردی

« نور په ۲۱ صفحه کښی

له چینی خپره و نو څخه :

پښتو کو نکی : (پالوال)

# چینی ادب

## دتاریا گو له جنگ څخه بیا دمی دخلرمی تر بیښی پوری

د ۱۸٤۰ تم کال دتاریا کو دجنگ او د ۱۹۱۹ سم کال د(می) دخلرمی نیمی دبیښی ترمنځ کلو نه دچینی کلاسیکی ادب په تاریخ کښی شپږ مه او وروستنی مرحله جوړوی.

د چینگ د سلسلی پر وروستی نیمایی کښی دغرب سرمایه دارو هیوادو پر چین باندی اقتصادی او لښکری پرله پسی حملې شروع کړی دغسی نو دچین فیوډالی اجتماع کومه چه یا دیرو پیړیو کښی ثابته پاته سوی وه ، خرابه سوه اوچین نیم فیوډل او نیم مستعمره هیوادو گرځیدی ، دغه وخت ؤ چه دطبقی په مناسبا تو کښی تحولات پیښ سوه .

بدغه توا له وخت کښی چینایان بدې پسی وه چه دنجاوز او استبداد په مقابل کښی وجنگیږی .

د تاریا گو په جنگ پسی د ۱۸۵۱ — ۱۸٦٤ کلو په منځ کښی دتایپینگ انقلاب پیښ سو او یا ۱۸۹۸ کښی رفورمیشن (اصلاح) و منځ ته راغی ، بیا نو په ۱۸۸۹—۱۹۰۱ کلو کښی داستعمار مخالفین راپورته کیږی او به ۱۹۱۱ کښی انقلاب صورت نیسی چه لوی ترین ښورش ئې بللای سو. دغه رنگه نو ترانیاؤ کالو وروسته د (می) دخلرمی پیښه و منځ ته راغله ، چه چینا یانو د دیموکراسی له پاره په خپلو شخړو کښی اصرار او ټینگار وکړ . مګر دوی د چینی بورژوازی د کمزور تیا او کمار کو نکی دلی دمشرتیا دنه والی مدیون دی ، بدی کښی چه ددوی دهدف په لاس ته وروستلو کښی ناکامه سوه .

ددغی دوری خورا ښه لیکوال بیله استثنا څخه توله د ملیت پراساس باندی - زړسواندی وه . په دغی انیا کلنی مرحلی کښی لوی شاعران عبارت له : چانگ دې ، چینگ وی یوان چوچی اوهوانگ ، څی هسین څخه وه . لومړ نیو درؤ دتاریا کو دلمړی جنگ به شاؤخوا کښی حقایق ضبط کړه ، اودحکومت بی زړه توب ، بیده والی اودوولس بیداری اوجرئت ئې ښکاره کړ دچانگ ری پینگ د(سان-یوان لی) غوندی نظمونه او

دوی یوان «دتاریخ رابلنه» او دچوچی «معاصر واقعات» واره سرتر پایه پوری پر حقیقت باندی بنا وه هوانګ ثون هسین یو مهم لیکوال ؤ او آرزو ئې درلوده چه په «شعر کښې انقلاب» پیښ کړی خو هغه ؤ چه یونوی مکتب ئې پکښې راوایستی . دهغه وخت د «نوو» اشعارو څخه ئې ډیر سطحی وه او دهیوانګ آثار تراوسه پوری دوطن پرستۍ دحس به نسبت ثابت اوژوندی پاتهسوی دی چه دخپل وخت له سیاسی او اجتماعی حقایقو سره نژدی اړه لری. دنوموړی ژبه غنی او طبیعی ده .

دده د «ساندی ویو نګی پیایانګ» نظم چه دکال ۱۸۹٤ م کال د کوریا دپیایانګ مدافعه ثبتوی او دهغو جنرالانو کومو چه چین وتونکر پیه ترخه غندنه کوی، داسی :

له شپږ ز دیر شو مورچو څخه
خورا ښه مورچه څخله. آسوچیت
کړه تر پښولاندی ؛ خلګ یو
بربل اوید له یو جنرال ئې
ځینی مړ سو ، بل ئې گیر
کړه سو بندی. نور پنځلس زرو
خلګو وسلی کښېښو وی
تندي (۱) «تیننګکو» او
«تایوان» هم ښه شعرو نه وه
چه دهغه وخت له «پسیدو»
کلاسیکی شعره سره خرازه
او قوی مقایسه کړه سو یدی.

په نثر کښې لوی لیکوال
لین شی، هسو، چانګ، پینګ
لین اولیانګ چی، چاو، وه .
لین شی، هسو دکانتون هیرو
کمشنر ؤ. هغه چه دتاریا کوله
راوړ نګه سره ئې مخالفت وکړ
او بوزوروړ او اغیره تا که نثر
ئې په سیاسی موضوعاتو کښې
ولیکی، چه دانګلنډو ملکی
ته ددة دغه یادداښت پر هغو سختو
جزاؤ باندی مشتمل ؤ کومی
چه دخارجی قاچاقچیانو له پاره
تاکلی سوی وی . دچانګ
پینګ، لینی سبك ډیر علمی
دی او دی پخپله یو غیر تمند
انقلابی سړی ؤ کوم چه په خورا
صراحت سره ئې دښورش تقاضا
کوله دهانچوس په وسیله
سره دچین دتندی توب (اطاعت)
په ۲٤۰ تمه کالیزه کښې په
خپله اعلامیه کښې داسی ولیکلة:

(که څنهم یونان ونیول
سو، مګر تلافی ئې وکړه :
که څنهم بولینډ ناشی په ژش
سو مګر خلګو ئې خپلی اجتماعی
تولنی بیرته جوړی کړې .
ولی به نوچین زموږ لوی هیواد
له خپله ډیره نفوسه او ښه کلتوری
اصولو سره، ودغو کو چینیو
ایالاتو ته خپله تیټرالفیه اثبات
ورسوی ؟ پریږدی چه پلرونه
اوزامن غونډه سره وکړی او
توله بولاس سی، پریږدی چه موږ
خپلی اوښکی پاکی کړو او
دغی تولنی ته راحاضر سو څو
دخپلی آزادی له پاپلمو څخه
یادونه وکړو .)

لیانګ چی، چاو د نثر د
یوه نوی سبك حمایه وکړه په
کوم کښې چه دسادګی او
روانی ښېګڼی سته، دغه سبك
روښانه مګر داصولو پابنده
نه دی. کله ئې محاوری یا د

(۱) تندی معنی مطیع او فرمانبر داره .

جملو هغه سا ختمانو نه کوم
چه له پره دیو ژبو څخه په
عـا ریت اخستل سوی وه .
استعمال کړیدی .

ددی له پاره چه واضحه او
څرګنده وی، دغه دلوستونکی
وقناعت ته یو موثره آله وه له دغه
پلوه څخه نو دلیانګ چه چاو
لیکـنی ذ چـینګ د
سلسلی په پای او دجمهوریت
په شروع کښی ډیری وولسی
سوې .

ددغې مرحلی هغه بیخی
نامتو ناول لیکونکی عبارت
وه له : شیه یو، کن، لیوو ،
هانګ پانګ، چینګ، لی پاو
چیاوو ؤ پاو، او څنیك پو څخه
دلی پاو، چیا دوه مهم اثرو نه
عبارت له : «اوسنی وختی»
او «بیوریو کراتیان» څخه ،
دی ده دخارجی مغرور ومبلغینو
او چینی صاحب منصبانو هغه چه
بیرندو کی باتکان وه، له مخو
څخه ددوی مخپوتی ورڅیری
(ووؤ پاو) ډیر ناولو نه لری چه
خورا مشهوره ئې «دورستنیو
شلو کالو عجیبی پیښی دی» .
دغه نه یوازی پر بیوریو
کراتیانو باندی حمله کوی،
بلکه سوداګر او پوهان هم
ترحملی لاندی نیسی ، چه دڅو
تاکلو کلتوری پوهانو بی حسی
خورا په خوند سره بیا نوی
څینګپود « یو ګل ګلاب د
سین په سیند کښی » په واسطه
سره ډیر مشهور سو چه دغه د
یوی مشهوری فاحشی (زرین
ګل ګلاب) په شاوخوا کښی ؤ
کوم چه دچینګ د سلسلی په
آخره کښی ئې دتولنی له مختلفو
اړخو سره تماس کړی او دهغه
وخت فاسد سیاست او صلاحیت
داره بیوریو کراسی راښکاره
کوی. یو بل ځای موداسی ذکر
کړی وه چه دپیکنګ یو خوار
مأمور هغه چه خپل پورونه ئې
لا نه سوای آدا کولای خو بیا
هغه دی چه دامپراتور مرسته
حاصلوی او بډای ځینی جوړیږی
مګر بل ځای موداسی راوړی
دی چه دی دفرانسی په مقابل
کښی دچینی لښکر او بحریی
درهنمایی له پاره ولیږل سو
ولی هر څه ئې سره ولړل .
« ده نه خپل منصبداران
پیژندل او نه په خپلو سړیو
پسی بایسته ؤ ، خوورځ په ورځ
متکبر کیدیء ده توله قدرت
دخپل ځان له پاره غوښتی ،
او څه لیاقت چه ئې درلو دی
هغه واړه دچم او خم ؤ فرانسوی
قوماندان، دی هیڅکله خوشی
نه پریښاوه ، مګر په هغه ترڅ
کښی چه محافظینو به ئې د
طوفان په حال کښی ددة پر
شاؤخوا باندی بمباری شروع
کړه. که څه هم چاونګ به
پرخپلو مغزو باندی داسی فشار
راوستی ، لکه څرنګه چه له
خپله قلمه سره وی، خو دتوپ
په مقابل کښی ئې هیڅ نه سوای
کولای، لکه څرنګه چه دی
په خوله کښی تیار ؤ دغسی
هم ددښمن دبحریی په مقابل
کښی بی مقاومته ؤ ځکه نو
دی په شر پنده باران کښی
لڅی پښی وتښتیدیء او اوه یا
اته میله په ځغستا ولاړی څو
خپل ځان ئې په یوه ماجیت کښی
پټ کړی، بیله دی چه دهغو تولو
کښتیو او خلګو، هغه چه ده
له لاسه ورکول؛ په باره کښی
فکرو کړی . »
دغه ناول که څه هم وپای

ته نه ؤرسیدلی خو د خپل وخت یوه ډیره ښه درجه اخلی.

خارجی ناولونه د دغی مدی په ترڅ کښی (لین شو، ووتاو) او نورو برخه اخیستونکو له خارجی ژبو څخه د چینی افسانی د پر مختګ او نورو هیوادو څخه د چینایانو ذپوهیدنی له پاره، په چینایی ترجمه کړیدی.

کله چه دغسی کلاسیکی ډرامی لکه د څاچو او چوان چی هغی چه بی رونقه سوی، نوئی پر ځای باندی محلی اوپراوو تکامل وموندیء او وولسی سوې. پدغو کښی پخوانۍ خوراښی اوپراوی لکه «د ماهیګر انتقام» او «د پورګټی» او داسی نوری چلیدې. په نورو مختلفو ځایو کښی یوشمیز خوندوری ډرامی، چه اکثراً به د انقلاب یا د روانو ودانیو په انتقادی روح کښلی سوی وې، ومیدان ته راووتلی. د ۱۸۹۸ د ریفورمیشن په دوران کښی وانګ هیساونونګ په تاریخی نومو سره څو اوپراوی ولیکلی چه وطن پرستی ئې ترزیق کوله. لکه څرنګه چه ئی دی «د نیکه پر زیارت ساندی» په اوپرا کښی بیانوی، کله چه د (شو) پاچا فیصله وکړه چه په ۲٦۳ میلادی کښی و (وی) ته تسلیم سی مګر دده زوی لیوشین چه دغه لاندنی پروتیسټ صادر کړ؛ نوئی خپل ځان هم وواژه:

په غوږو کښی می داسی د ربهاری دی لکه بلارچه می
وجنرال تینګ ته ور نژدې کیږی.

زه د دغی صحنی لیدل هیڅ نسم زغملای،
چه پوپاچا دی د خپل آس په مخ کښی سر تیټوی.
زه به وکولای سم چه تو له خا ئنان مړه کم!
نن ورځ زموږ دامپراتورۍ دربار خاتمه مومی.
زه خپله توره په توندی سره کشوم،
او مرګ ته تر بی ننګۍ تر جیح ورکوم،

او سنۍ اوپراوی په معاصرو نوموسره د چینی تیټر یوه مهمه برخه ګرځیدلی ده او په سیاسی اړو دوړ کښی ئې فعاله رول بازی کړیدی پدغه وخت کښی هم دوی د زمانی وسیاسی ضرور یاتو ته جواب ورکوونکی وه، او عصری ډرامی چه غربی سبک ئې درلودی سو که سو که ښکاره سوې.

د ۱۹۱۱ په انقلاب کښی ډیری تمثیلی کمپنۍ موجودی وې چه له هغی جملې څخه: د ملګرو تولنه د پسرلی لمر تولنه، د پسرلی ولې تولنه او تکاملی تولنه، ئې هغه دی چه خپله برخه ئې د چینی تیټر په بشپړولو کښی سرته رسولی ده هغه ډرامی چه دوی را ایستلی وې د انقلاب له پاره ئې وولسی غوښتنه په خپل اصلی وسعت سره منعکسه کړه.

د ډیموکراتیک انقلاب د وختو ادب هم د نوی بورژواز ثقافت او د زړی فیوډالۍ د هغی ترمنځ شخړه منعکسه کړه. مګر له هغه وخته څخه چه نړۍ د استعمار وذوری ته ور کښېوتلی ده، نو د ځوان چین سرمایه داری طبقی ونه کولای سوای چه دغه زور ور جنګ دی خاموشه کړی! دغه رنګه نو د دغی دورې بورژوازو (سرمایه دارو) مفکرنیو د اصلاح (ریفورمیزم) وخواته یواغیزه ناکه تمایل څرګند کړ مګر ودغو لیکوالو ته پوره بری په لاس ته ورغی.

دغه نه تر هغه وخته پوری چه نوی ډیموکراتیک انقلاب شروع سوی ؤ بلکه د (می) د څلرمی تر پیښی وروسته په چینی ادب کښی یو ښکاره او تمیز کیدونکی پر مختګ ومنځ ته راغی.

د کلچر ایند لایف څخه

د ښاغلی (آشنا) ژباړه

# سیارات دوی ډلی دی

شمت د سیاراتو د تشکیل په فرضیه کی داهم زیاته وی چه سیارات د کمیت او کیماوی ترکیب په لحاظ متفاوت او دوې ډلی دي، چه یوه ډله د بلی څخه د ذکر شوو خصوصیاتو په سبب توپیر لری.

هغه څلور سیاری چه تر نورو سیاراتو لمر ته نزدی دی لکه (عطارد، زهره، مځکه، مریخ) نسبتاً کوچنی دی او تر تولو لو سیاره ئې مځکه ده، چه متوسط کثافت ئې له ٤ څخه تر ٥/٥ واره پوری نسبت واو بوته دی دغه سیارات تو له د مځکی غوندی د ډبرین او فلزی موادو څخه جوړ شوی دی.

هغه ډله سیارات چه نسبت ودغو ته د لمر څخه لیری دی لکه (مشتری زحل. اورانوس او نپتون) تر مځکه لس یا سل واره جسیم دی، د دغو کثافت ښکاره کوی چه دغه سیارات د بیخی سپکوشیانو څخه جوړ شوی دی. د دقیقو مشاهداتو څخه موږ پوهیږو چه دغه سیارات د میتین او امونیا ډیر مقدار لری. ځنی نظریات ښکاره کوی چه دغه سیارات یوه زیاته اندازه د غیر وزین عنصر لری چه هغه عبارت د هائدروجن څخه دی.

ښائي چه د مشتری او زحل د سیاراتو د حجمو ۳-٤ برخه هایدروجن وی ځکه نو دا پوښتنه منځ ته راځی چه د دغو دوو ډلو سیاراتو د دغه توپیر مبدا څه شی ده؟ و دی پوښتنی ته په کال ۱۹۵۰ کی د شوروی اتحاد د سیانس دؤ تنو پروفیسرانو او A.L. hébedinSKy GurevìchL.É.

داسی جواب ورکړ:-

دغه پروتوپلنیتری او ریځ (چه د مځکی د مبدا په برخی کی توضیح شوه) د گرز دلرلو په سبب صرف لږ شفافه وه او کله چه گرز د یوه مسطح ډسک په شکل سره تول سو نو دغه آخرالزکر گرده غیر شفافه سوه د لمر وړانگو یوازی د دغه پلیټ د منځ محدودی برخی تو دو ولای سوای، غیر له دغو برخو څخه نوری لیری حصی ډیر ارتی او یخی وی چه د لمر حرارت او وړانگی هغه ته نه سوای رسیدلای.

پدغه تو ده سوی منطقه کی د گرز ذرات د غیر لطیف ډبرین موادو څخه جوړ سوی وه، مگر په یخه برخه کی هغه لطیف مواد چه د اوریځی غازی برخه ئې جوړه کړی وه د گرز په ذراتو پوری یخی سول او دغه علت سو چه د خاورین موادو په کمیت او کمیاوی ترکیب کی توپیر پیدا شو او وروسته د غه توپیر د سیاراتو د ۲ ډلو د جسمی او ترکیبی تفاوت سبب شو.

خو تراوسه داهم پوره معلومه نه ده چه آیا ددغه لومړنی Prooplanetary ډسك ډوله اوریځی دبهرنی برخی د حرارت درجه دونه کښته وه چه حتی هائدروجن هم د گرز په ذراتو پوری یخی سو او پدغه ترتیب ددغو غټو سیاراتو اساسی جامده برخه وگرزیدل او که داسی ؤ چه په لومړی سر کی هغو سیاراتو چه د نطفی اوتومنی حیث ئې درلودی خو دخپل غټ والی په نسبت ئې د ځان دتکامل په لړ کی تو له غازی هایډروجنو نه دجامدو موادو سره یو ځای ونغاړل او ځانته ئې کش کړه.

دغه رنگه دلاندنی گروپ یا (هغه ډله سیارات چه لمر ته نزدی دی) خصوصاً دمځکی د کمیاوی ترکیب دقضیی په متعلق ځنی دتوجه وړ مسائل پیدا کیږی مثلاً داسی اجسام لکه مځکه اوسپوږمی چه د لمر څخه په یوه فاصله واقع دی باید یو ډول ترکیب ولری مگر دمځکی کثافت ۵×۵ واره نسبت واو بوته دی حال داچه د سپوږمی کثافت ۳.۳ دی.

جیوفزیکی اطلاعات، چه دزلزلی دامواجو انتشار مطالعه کوی، په مځکه کی د یوه کثیف منځ یا Cone موجودیت ښکاره کوی، ډیروخت ترمخه داسی خیال کیدی چه دمځکی منځ یا Coye دنیکل او اوسپنی څخه مرکب شویدی، که دا دغسی وی نو سپوږمی چه ترمځکی لږ وړه ده باید لږ اوسپنی ولری داد H urey نظریه وه چه دغه سړی دډیر وخت دپاره ددغو تفاوتو په نا کامه تلاش مصروف دی.

مگر ۳۰—۴۰ کاله کیږی چه دمځکی د مغز یا CORE اصل په متعلق ځینی نوی نظریات پیدا شویدی.

په ۱۹۳۹ کی دشوروی اتحاد یوه جیالوجیست (د طبقات الرض پوهاند) ښکاره کړه چه: امکان لری چه د مځکی مغز داسی ډبرین موادو څخه جوړ شوی وی لکه دمځکی سطح یا پوست چه ځنی جوړ شویدی مگر هغه موادچه دمځکی مغز ته رسیدلی دی داتماسپیر (جو) تر یو نیم ملیون فشار لاندی کثیف شویدی. او دمځکی په منځ کی ئې قرار نیولی دی. د ۱۹۴۹ را ایسی عیناً دغی نظریی د انگلیسی طبیعی پوهاند RAMzy له خوا په کامیابی سره انکشاف موندلی دی او تدریجاً طرفدارة پیدا کوی. ددغی نظریی څخه مطلب دادی چه (دهغه احتمالاتو سره سم چه دعالم دمبدا په باره کی سته) مځکه اوسپوږمی یو ډول ترکیب لری مگر داچه زموږ دسپوږمی مواد نه دی کثیف سوی حتی په مرکز کی هم نو ددی علت دسپوږمی دداخلی فشار کموالی دی.

## له هری خوا

څه موده مخ کښی داسترلیاد ملبورن په ښار کښی سور دوله باران واوریدی دښار خلگ لږ گړی وروسته ملتفت شول چه داخرنگه سور رنگه باران اوریږی سهار چه لمر راوخوت ددی ښار شاوخوا دسور رنگه باران یا اثر لکه په گلاو چه پټ وی داسی ایسیدی وروسته چه خلگو دغه گلان وازمویل ښکاره شول چه گوری ډیری میده میده او ذیقیمت ډیری ئې په نظر ورغلی چه دادیا قوت زمروت او عقیق څخه عبارت دی تراوسه داسی قیمتداره باران په هیڅ ځای کی دنړۍ نه دی اوریدلی.

# الکساندر سیر گیویچ پوښکین

1799 - 1837

(۱)

ښاغلی «پوښکین»

الکساندر سیر گیویچ پوښکین د روسیې ستر شاعر دنونسمی پېړۍ په لومړی نیمائې کی ژوند تیر کړی دی.

پوښکین واردواره دنوی روسی ادب او دخپل وخت دروسی ادبی ژبی اساس کښېښووی.

دا ستر شاعر ویوې خواری اشرافی کورنی ته منسوب ؤ. ده په هغه لیسه کی زده کړه وکړه چه د (پېربورگ) داطرافو (دتزار په سیلی) کی واقع وه اواوس دغه ښار دپوښکین په نامه بلل کیږی. پدغه وخت کی دالیسه دټولو عرفانی مؤسساتو په منځ کی نامی وه اوزیات پر دې معلمان ئی خو را مترقی کسان وه.

پوښکین په کوچنی والی کی لاداشعارو په لیکنه شروع کړی وه او په لیسه کی نو دده استعدادوخپل انکشاف ته دوام پسی ورکی. وختی لادده دځوانی په اشعارو کی دده دشخصیت آهنگونه اوریدل کیدله. ده دخپل اصلی طبیعت سره مینه درلوده. دده له خپله اولسه سره مینه وه. دده آزادی او دژوند وخوانه مینه وه اودعقل په مخ کی ئی اطاعت خوښ ؤ.

پوښکین دروسی اولس په غزلو اونکلوښه پوهیدی اومینه ئی ورسره درلوده او دده دتخلیقی هنر له تقویی سره ئی مرسته هم وکړه. داولسی اثر ډول اوموضوع ئی په هنری تکمیل سره پخپل هغه لومړی ستر شعر کی ښکاره کړه چه (روسلان اولیودمیلا) نومیدی او دده زریات شهرت

باعث و گرزیدی . همدار نگه ئې په خپلو نورو عجیبو شعری نکلو کی دا کار تر سره ورساوه .

د پوښکین شعری استعداد دده د دلچسپی پراخی حلقی د شاعر (ژوکووسکی) او لیکوال (کرمزین) او د روسی ادبیاتو د نورو نومیالی کسانو توجه وځان ته راجلب کړه .

په کال ۱۸۱۷ کی د لیسی تر ختمولو وروسته پوښکین د خارجی چارو په وزارت کی په کار بوخت سو پدغه وخت کی دی د شریفو انقلابی نمایندگانو سره صمیمی اشنای سو .

داتو کراسی ظلم د کال ۱۸۱۲ تر جنگ وروسته دهقانی تحریك راوپاراوه او په روسیه کی ئې د پټو ټولنو جوړیده راوسته . دې ټولنو داتو کراسی او بندگی په مقابل کی مجادله خپل هدف وټاکله .

هغه د مخ خلگ چه د دغو ټولنو په رأس کی وه ډیره برخه ئې مامورین وه چه کلك آزادی غوښتونکی وه او هغه خلگ هم پکښی وه چه د کال ۱۸۱۲ په جنگ کی ئې برخه اخیستی وه .

پوښکین د دی د مخنی خلگو مفکوره په خپلو هغو اشعارو کی څرگندوی چه د (آزادی) او (کلی) او نورو تر عنوان لاندی ئې کښلی دی او په هغو کی د غلامې حقوق غندی او او د آزادی د پاره غوښتنه کوی

پوښکین د روسیی پر ځلانده آینده باندی عمیقه عقیده درلوده . دا عقیده دده په هغو اشعارو کی واوریده سوه چه له لیسی څخه د راتلو په اخیرنی کال کی ئې کښلی دی .

﴿۲﴾

د پوښکین انقلابی مزاج ولومړی (تزار الکساندر) ته ښه ور معلوم ؤ او ویل به ئې :

« پوښکین باید وسایبریا ته فراره سی ... ده روسیه په راپارونکو اشعارو ډکه کړه چه ټوله ځوانان هغه په یادوی او وائې ئې » یوازی د (ژوکووسکی) او (کرمزین) په همت د ده جزا سپکه سوه : پوښکین وسایبریا ته نسو فراره بلکه په عوض کی د جنوبی سیمی د (کیښنیوو) وښار ته تبعید سو .

د پوښکین انقلابی مزاج په فراری سره کمروره نسو . ده په خپل هغه شعر کی چه دغه وخت ئې د (خنجر) تر عنوان لاندی کښلی دی د استبداد سره ئې د مجادلی د پاره بنله پکښی ور کړیده .

اندیوالانو پوښکین له (کیښینیوو څخه ؤ « ادیسی » ته راوستی خو هلته ډیر عمر پاته نسو . (تزار) امر صادر کی چه پوښکین د پولیسو تر نظارت لاندی د (میخائیلووسکی) کلی ته ولیږل سی چه هغه د شاعر د مور ؤ پلار ملك ؤ . و (ادیسی) ته ترنگ د مخه پوښکین یو شعرو کښی چه نوم ئې داوو : (وسیندته) پدی شعر کی ده د « بایرون » په نامه یادو نه کړیده ده چه د دی انگلیسی شاعر مړینی دی لړزولی ؤ .

د (میخائیلووسکی) په کلی کی پوښکین دوه کاله تیر کړه دلته ده هغه ډرام و پای ته ورساوه چه (بوریس گدونو) نومیدی او څو کاله د مخه ئې

رامښلولی ؤ او دهغه موضوع له روسی تاریخه څخه اخیسته سوی ده . په هغه مقدمه کی چه پر دغه ډرام ئې کښلی ده پوښکین وائي: «ما خپله تراجیدی زموږ دبلار «شکسپیر» په ډول څرګنده کړی ده »

ده د (میخائیلو وسکی) په کلی کی پر هغه رومان باندی کار کولو ته دوام پسی ورکی چه (ایو ګینی انپګین) نومیدی . ددې رومان په بیتو کی چه په څو کاله کی ئې وپای ته ورساوه، شاعر په هنری ډول سره دخپل وخت انعکاسات پکښی ځای کړیدی .

دغه اثر دروسیی نامی انتقادی اثر دی چه انقلابی دیموکرات «بیلینسکی» دروسیی دژوند دائرت المعارف بللی دی او په ده کی دروسی جامعی ژوند له بزګرو څخه نیولی تر لوړو ټولنو پوری پکښی لیده کیږی .

د کال ۱۸۲۵ په دسمبر کی لومړی الکساندر تزار مړ سو. پر تخت ئې باید دده ورور لومړی «نیکولای» کښینستلی وای . درباری انقلابیانو ددسمبر پر څورلسمه شورش جوړ کی چه ددسمبریانو په قیام سره یادیږی : دوی دروسیی دپاره اساسی قانون غوښتلی او مطالبه ئې کوله چه بندګی ختمه سی.

ددسمبریانو شورش ناکامه سو . پنځه نفره شورشی لارښوونکی ووژل سوه او نور وسایبریا ته فراره سوه . پوښکین ددسمبریانو دانقلابی مفکوری سره دخوا خوږی په وجه داواقعه په عمیق ډول سره ګالله . ددې پیښی د وژل سوو او فراری کسانو په جمله کی اکثره دده انډیوالان وه .

تر شورش وروسته څو میاشتی تیری سوی پوښکین ژر (وپیتربورګ) ته راوستل سو.

تزار فیصله کړی وه له پوښکین څخه درباری شاعر جوړ کی نو دڅه وخت دپاره وده ته اجازه وسوه چه په ماسکو کی ژوند وکړی .

بدې سبب چه دی له فراره کیدو څخه وروسته راغی نو په ماسکو کی په حرارت سره دده استقبال کیدی . تو له وتلی خلکو چه دی ئې پیژندی دده وشرافت ته ئې په درنه سترګه کتله . پوښکین د لومړی نیکولای هیله ور پر ځای نکړه او درباری شاعر ځنی جوړ نسو . دده ددغه وخت اشعار پوره د تزار ترټونکی وه او له فراری او وژل سوو دسمبریانو سره ئې عمیقه خواخوږی پکښی بیانوله .

په کال ۱۸۳۰ کی پوښکین کوزده وکړه او ژرو (پتربورګ) ته ولاړی .

دشاعر مناسبات له تزاره سره بدتر کیدله او پوښکین ته درباریانو دنفرت په سترګه کتله .

ددوی ددسیسی په سبب چه په هغه کی په خپله تزار هم لاس درلودی دپوښکین سره ئې (ډانتیس) نومی فرانسوی ځوان وجنګاوه چه دغه لوچک سړی دروسی تزار خدمتونه دمامور په شکل اجرا کوله .

په کال ۱۸۳۷ کی د جنوری پر ۲۷ داجګړه وسوه

(دانتیس) وار دوارة پر پوښکین دزی وکړی نو پوښکین سخت تپی سو او په واوره کی راچپه سو .

د پوښکین د سخت تپی کیدو خبر ژر تر ژره په (پیتر بورگ) کی خپور سو . سره له هغه ظالمه یخه چه په هغه کور کی ؤ چه پوښکین ژوند پکښی کاوه د شپی او د ورځی په زرو خلک ورته رانله چه د خپل محبوب شاعر د جوړنیا حال ونیسی . دده وورځو په ترڅ کی پوښکین له ما بینه ولاړی .

(۳)

له کال ۱۸۲۸ څخه تر کال ۱۸۳۷ پوری پوښکین ډیر ښکلی آثارو کښه . دده په اشعارو (پولتاوه) او (برنجی سپور) کی دروسی هیواد مهم تاریخ پکښی بریښی او دلومړی (پیتر) د حکومت جوړونکو کاروبار پکښی ننداره کیږی . د (دوبروسکی) په نکل کی د زمین دارانو د بندگی بربریت تصویر وی او هغه مجادله څرگندوی چه انقلابیان ئی د خپلو بزگرانو د دفاع د پاره کوی . هغه د بزگرو جنگ چه له کال ۱۷۷۳ څخه تر کال ۱۷۸۵ پوری د (پوگجیووه) ترلار ښوونی لاندی سوی ؤ پوښکین وکښی او خپلو معاصرو ته ئی د مهمو تاریخی حوادثو په شان ورښکاره کړی . په وروسته کی پوښکین په همدی موضوع کی (د کپتان لور) په نامه نکل وکښی چه د مرگ د کال د مخه ئی وپای ته ورساوه .

پوښکین د لفظ په قوی معنی سره ملی شاعر ؤ .

دده نوم په تر لوروسی خلگو کی مشهور دی . دده آثار د شوروی اتحاد د تو له اولس او د نړی د نورو اولسونو په ژبه کی وتلی آثار دی .

پوښکین د ډیرو شاعرانو او لیکوالو په هنر کی اغیزه ښندلی ده دروسی ادب پیاوړو نمایندگانو د پوښکین د هنری شکل په اجراء کی د واقعیت تصویر هم کتلی او هم ویلی دی .

پوښکین و کمپوزرانو ته د موسیقی د عجیبو آثارو په تخلیق کی داسی الهامات کړی دی چه د نړی مشهورة خلگ کار ځنی اخلی . مثلا د نونسمی پیړی د «اوپرا» مشهورو کمپوزرانو (گلینکی) له «روسلان اولیود میلا» څخه ، (چایکووسکی) له (اوگینی انیگین) او (پیکروه یا دامه) څخه ، «موسورگکی» له (بریس گدونوو) څخه استفادی کړی دی . دا اوپرا گانی دروسی تیاترو له ستیجه څخه نه راتا کیږی او وخارج ته لاهم ځی .

د پوښکین په اشعارو کی ډیر نکلونه ختلی دی .

د شوروی اتحاد په ډیرو ښارو کی د پوښکین یادگار په مسکو کی دی چه د ښار په منځ کی د پوښکین په چار راهی کی ولاړ دی .

یو له بله په اخلاص ور کړی لاسونه
د نا توا نو سره وکړی کومکونه
د نفاق د خیری پاك کړی صورتونه
په یو والی سره وکړی ښه کارونه

واسطه چه په د نیا کښی د خواری ده
بیکاری ده ، بیکاری ده ، بیکاری ده

موږ گټلی نوم نښان په اتفاق ؤ
موږ تېر کړی ښه دوران په اتفاق ؤ
بېرولی مو جهان په اتفاق ؤ
همیشه موږ فاتحان په اتفاق ؤ

هغه ښه د گټی شی چه پر آفاق دی
اتفاق دی ، اتفاق دی ؛ اتفاق دی

که مو دغه رنگه حال وی یا ژوندون وی
د اسبا مو د امید لکه پرون وی
یادی خدای (ج) نکړی نفاق وی یا بیلتون وی
نو نیکه به مو د غمه جگر خون وی

زموږ وار تیر سوای زامنو ستاسی واردی
د خدای پاردی د خدای پاردی د خدای پاردی

د نیکه پر دې وینا می زړه مفتون شو
عقل ؤ حس می په رشتیا ورته مجنون شو
د (طالب) پر خپل حالت باندی زړه خون شو
تر دې حده چه رنگین ئې په مضمون شو

خدای (ج) دی را کاندی توفیق د کار چه کار کړو
د نیکه پر نصیحت باندی رفتار کړو

# غوره ویناوی

له دروشیو نو څخه ځان ساتل ډیر گران کار دی
۱- درازو نو ساتل.
۲- ذناوړو سهل.
۳- او ډیری خبری کول.

* * *

که غواړی چه تر مړینی وروسته د چاهیر نشی په خپل ژوند کښی داسی کار وکړی چه هغه د لیکلو وړوی او یا داسی اثر ولیکی چه هغه په ویلو وارزی .

* * *

رخه او کینه دانسان قدر کموی او د خلگو په نظر کښی ئې سپکوی

* * *

د داسی کسانو له دوستی څخه ځانونه وژغوری چه خپل نوم او د ژوندانه چاری نه سی ساتلای .

ښاغلی «نجیب»

# دروسی او

## پښتو ژبی دلغاتو نژدیوالی

په روسی ژبه کښی ځینی لغات شته چه په پښتو کی کټ مټ او یا د ځینو الفاظو په لږ تحریف سره دیوه مفهوم له پاره افاده کیږی دا نه ویل کیږی چه له پښتو څخه وروسی ته تللی دی او که له روسی څخه و پښتو ته ور نقل شوی دی. خو په هر حال زه بعضی له هغو څخه چه په ادا او مفهوم کښی بود بله مطابقت سره لری دروسی او سانسکریت له مقاسیوی نومی کتاب څخه د مثال په توګه سره رانقلوم.

۱- دروسی ژبی دوانګیر یا انګیر کلمه د نوموړی کتاب مؤلف د فارسی ژبی له اخګر او سانسکریت له انګارا سره یوشانته مرادفه بللی ده په پښتو کښی هم وښه لګیدلی اورته انګار ویل کیږی.

۲- د ډپ لفظ په روسی ژبه کی د خالیګاه نه والی په پښتو کښی ئې صرف اخیرنی حرف په (ب) سره اړول سویدی د نوری ادا د افادی صورت ئې کوم توپیر نه لری.

۳- دروسی ژبی د مام د کلمی اخیرنی حرف په سانسکریت کښی صرف په نون فتحه او په پښتو کښی ئې مخنوی او اخیرنی حرف په (و) او (ر) سره تبدیل شویدی.

۴- په روسی کښی ژوی وحیوان ته وایی په پښتو کی نور په ۲۳ صفحه کښی

ښاغلی عبدالغفار «بریالی»

# ژو

ژو په ناز د دلبرانو
ژو په کبر د خوبانو
ژو په مینه د رندانو
ژو په غشو د مژګانو
ژو په عطر د زلفانو
ژو په چم د رقیبانو
ژو په توره د غازیانو
ژو په درس د ناصحانو
ژو په ننګ د افغانانو
ژو په ګټه د نېکانو
ژو په مینه د یارانو
په خندا د وصالی ژو

ژو په آه د سوخته ګانو
ژو په درد د بېدلانو
ژو په زهد د شیخانو
ژو په مرګ د فدایانو
ژو په قتل د چشمانو
ژو په دم د مظلومانو
ژو په خون د شهیدانو
ژو په کیف د شاعرانو
ژو په رنګ د ترکیانو
ژو په قول د وافیانو
ژو د ژوب په کاکړانو
په ژړا د (بریالی) ژو

په دا واړو می قسم دی خپله یاره
که ترمرګه ستاله مینی سم بیزاره

# د کندهار

## چهل زینه

د کندهار دلیدلو وړ ځایو څخه یو چهل زینه ده چه د کندهار دښار دلویدیځ (غربی) لور دجنوبی برخی په دری کیلو متری کی واقع ده .

داچهل زینه دډ ډ دلمړی درجی حکومت په سیمه کښې د (کوچنی غره) په لوړه مانۍ کښی سنګتراشی شوې، دتعمیر پردننه اودباندی برخو باندی ئې د (بابر) کورنۍ دفتوحاتو تاریخچه لیك او کیندل شویده

د کندهار دچهل زینی ډبرینه مانۍ .

پدی ډبرینه مانۍ کښی چه وښارته نژدی اودمشهور غره (سرپوزی) په مخ کښی واقع ده لیدونکی په ډیر حیرت کښی اچوی چه قدرت څرنګه یو داسی مناسبه ډیره وموندل چه له کښتې څخه تر پورته پوری (٤٢) زینې پورته شوی ، او دهغه په لوړه برخه کښی یوه مناسبه اومسطح خونه جوړه شوې ده .

ددی ځای دبناء کوونکی مفکوره هم د ډیری ستاینی وړ ده . چه څرنګه ئې په یو داسی ډبرین ځای کښی دځای جوړولو فکر کړی او بیا ئې دهغه دجوړولو امر کړیدی . همداسی هغه کاسبان ، کار کونکی اوحکاکان چه په ښه صورت ددې کار تر عهده وتلی دی دشاباسی وړدی .

ددې بنابانی بابر ظهرالدین دی ، چه دهجری ۸۸۸ کال دمحرمی په میاشت کښی پیداشوی ، او دمرګ کال ئې ۹۳۷ یادشوی دی ، داځای دده دزوی بهادر محمد کامران په زیار په ۹۳۲ کال کښی سر ته رسیدلی دی .

دامانۍ چه دیوی سختی توری ډبری څخه له کښې څخه پورته شوې ده ، ډیره مشهوره ده ، ۳۲ کاله دمخه دامانی سلطنت په دوره کښی ددی زینی ودواړو خواؤ ته سیمی کټاری ودرولی شوې ، چه وچهل زینی ته ختل اورا کښته کیدل ئې خورا آسانه کړه .

## دروسی او .....

کټ مټ دغه کلمه دحیوان دپاره معموله ده .

۵- دروسی ژبی زرونۍ او دپښتو ژبی زونۍ په ادا اومفهوم کښی غیرله یوی (ر) داضافه لقب څخه نور فرق نه لری .

٦- زور په روسی او پښتو ژبه کښی د قوی اوتندرسته معنی ښندی .

۷- دروسی ژبی دزلتیدلو کلمه دپښتو دځمیدلو له کلمی سره بیله لږ تغیره څخه په ادا اومفهوم کښی یوشی ده .

۸- (دهنی) اوهندوانی د کلمی په مفهوم اوادا کښی بیله د دال له دمخه توب او (ا) ؤ (و) له اضافه توب کوم بل لفظی او معنوی تغیر نشته .

۹- دروسی دخوت کلمه د پښتو دخوت له کلمی سره په ادا اومفهوم کښی یوشانته ده .

۱۰- نیز تك دروسی او نازك دپښتو تر یوی اندازی پوری په ادا او مفهوم کی قرابت سره لری .

د محمد احسان ،، کارګر ،، ژباړه

# له خپلی لور سره

د مور راز ؤ نیاز

اوزما بچی! بیده شا چه شوخ ورور دی له ختیځ څخه سرود ږغوی.

موردی پخپل غېږ کی آرامه نیسی او د بلوط تر درختی لاندی داستانونه دږ تاوائی.

بیده شه!!

چه خوږ خوب وکړې.

اور کی! شپه ترنیمائی تېره شوې ده سایه داره بېره وزرونه خلاصوې؛ اور مړ شویدی، د شپې دېب د رود پر غاړه ولاړ دی.

زما ګرانی لوری! په ژوند کی وفاداره اوسه چه ته پر خپل مین ګرانه اوسی، ځکه اوس لا کوچنی ئې او دا پند له مانه واوره!

—:(۰۰):—

اوه! زما لور کی بیده شه چه شوخ ورور دی له ختیځ څخه سرود ږغوی.

هر وخت چه تا حس کړه ځوانان دی دوسته لری؛ د هغو په قول اعتماد مه کوه ځکه هغه ډېر درواغجن او حیله ګر وی.

زه هم یو خوشاله ګل وم؛ یوه ورځ سهار وختی لکه تازه ګل په بڼ کښی د سرو ګلونو سره په عاشقانه صحبت سره مشغوله وم، جفا کاره باغوان چاړه پر غاړه را کښېښوده او زه ئې له بو تې جلا کړم، او دیو فریبکاره ځوان په لاس ئې وسپارلم، د زمانې سیر او د فرشته ګانو وزرو حرکت کاوه او زه ورځ په ورځ سره ویلېدم، کوڅی می د سنبل په عطرو معطری وې، او اوس په پرېشانی آشفته دی.

زما لور کی لومړی معشوق وازمویه او بیا د عشق د پېشوا په مقابل کښی سرتیټ کړه چه زړه ذی پاك او بې آلایشه شی. کله چه د نجلی او هلك په منځ کښی حقیقی عشق لار پیدا کړی هلته بیا د حوا د ثو سېل پر هغو حمله نسی کولای.

زما لور کی بیده شه!

د پسرلی باد له پنجرو څخه د عشق بوی راوړی او د سهار ګاه نسیم د خوشبختی نغمې ږغوی.

د ژوندون کاروان مخ ته ځی او نوی حادثې د پښو په مخ کښی درته اچوی.

زما لور کی بیده شه!!

د رهبانانو څراغ وخاموش کېدو ته نژدې دی، سهارنی سپېدی د طلوع په آستانه کی دی.

د چوپانانو د شپېلی آوازونه وغوږو ته رسیږی.

شوخ ورور دی له ختیځ څخه سرود ږغوی.

# د پښتنو ځینی

دودونه

ښاغلی نور محمد کړزی

فولکور :

د کندهار په جنوب او لمر لویدیځ جنوب کی دوې لتی دی چه یوه چار ده او بله پنج ده نومیږی استیدونکی ئې ټول بار کزی دی ، دا وکړی په ودو کی ځینی داسی دودونه لری چه هغه تر اوسه پوری د ټول افغانستان او نورو ځایو په ودو کی نه دی لیدل شوی او نه ارویدل شویدی .

دوی په نورو ټولو دودو کی د کندهار دښار او خپل چپ-چاپیره څخه تو پیر نه لری یو اځی ځینی شیان چه په نورو اړه نه لری لاندی ښودل کیږی :-

۱- هر سړی چه د دوی څخه نجلۍ وغواړی وروسته تر یوې تاکلی مودې د سمال اچوی چه دې دود ته پښه ارتیدل یا پښه خلاصیدل وائې وروسته تر دې نو زوم کله کله د خپل خسر کره ورځی . خو یو اځی د سمال اچولو په لمړۍ شپه چه د زوم خپلوان وروسته تر ډوډۍ خوړلو وخپلو کورو ته رخصت شی زوم د خسر کره پاته شی ماخستن د خوب تر وخت وړاندی خواښی او د نجلۍ نوری خپلوانی راځی لمړی زوم کوری څه مجلس ورسره کوی نجلۍ او دی سره پریږدی نو بخپله ځنی راوزی د باندی ورته پټی شی د ده خبری چه د خپلی میرمنی سره ئې کوی د دوی معرفی چه لمړی وار یو اځی په لیدلو سره کیږی هغه باید په یوه چم د چمو واوری تر دې چه ځینی ښځی د زوم او ناوی د ملاقات په خونه کی وړاندی د زوم تر راتګ په برمك یا داوړو په کندو کی ورته پټیږی ، دوی هڅه کوی چه زوم په ونه پوهیږی د میړه او ماینی لمړنی خوږ مجلس په خپلو غوږو واوری او سهار بیله دې څخه چه د نجلۍ څخه پوښتنه وکړی په خپله هم خبری وی د خپل ساعت تیری لپاره سهار ناوې هم مجبوره کوی چه د دې او میړه په منځ د مرکی خبری په ښکاره ډول سره په نورو ښځو هم واوری که چیری هغه ځینی خبری پټی کړی او یا شرمیده هغه باید چه هر و مرو د پټی شوی ښځی له خوا ښکاره کړه شی . زوم هم پدې دود سره لمړی لا پوهول شوی وی غواړی چه څوك ورته پټ نشی او خبری ئې وانه وری ، نو وړاندی تر ملاقات د پټو شوو ښځو پلټنه کوی هغه باسی بیانو په پوړه زړه خپلی خبری کوی .

د چغل بازی په دوهمه شپه بیا د نارینو تر مجلس وروسته د خوب تر وخت وړاندی د ناوې ډیری ورتیری خپلوانی او د

د نجلۍ مور د زوم سره په هغه
تاکلی کوټه کی یو ځای
کیږی نجلۍ هم د هغو سره
یو ځای وی د ناوی لاس باید زوم
په یوه لاس سره داسی ټینګ
ونیولای شی چه ناوی ئې ځینی
خلاص نکړی هر څو مره
چه زوم په بدنی توان کی پر
خپله ناوې باندی غښتلې وی
هغو مره ددې ښځو په سترګو
کی دروند او د وقار څښتن
ګڼل کیږی وروسته تر دی
ازموینی نو بل کوم دستایلو
وړ شی نه پاته کیږی وا ده
او خوښی ئې د نورو ښارو او دودو
په شان وی . دواده په هغه روځ
چه ناوی د پلار له کوره راسپره
کړی ورا رخصت واخلی د کلی
ټول نوی ځلمیان لس کلن
هلکان تر دې چه په زیره خلک
هم اشتراک پکښی کوی ټول
ورا باڼی په کاڼو ولی دا کاڼی
پخوا پر هغه لار باندی چه ناوې
وړه کیږی راغونډ شوی وی د
لوټو څخه هم کار اخلی هیڅ
یوه ورباڼی باندی زړه سوی
نلری سر او پښی ئې نه ګوری
یوا ځی ناوې او هغه وګړی چه
د هغی سره نژدی ځی ددې ویشتلو
څخه ژغورل کیږی نور ټوله
ورا باڼی تر ناوې وړاندی وی
که وروسته خامخا د تیږو
واری ور باندی کیږی ،
دا دود د خورا پخوانۍ زمانی
څخه په دوی کی شته هر کله
چه د دوی څخه پوښتنه وکړی
چه تاسی ولی ورا باڼی په تیږو
ولی پوهان او نا پوهان ئې
دا بیت وائې :

د پیغلو خو له د بل وطن دی
څرک چه پر دی ملکو نه خوری سرور کوینه

دغه لاندینی دلیلونه هم د خپل
دود په شاوخوا کی بیانوی .

۱- دغه نجلۍ زموږ د کلی
خورلڼه ده ددې دپاره چه څرک
په سپکه سترګه ورته ونه ګوری
موږ ئې په ډبرو ولو ځکه هر شی
چه وړیا ولاس ته راشی هغه
بیقدره وی په زیار موندلی د ځانه
نه لیری کیږی .

۲- دغی نجلۍ ددې کلی
په ژوندون کی خورا ډیره تجربه
درلوده دلی روزل شوې وه باید
چه د همدی کلی په ځلمیانو کی
یوه غوښتی وای نه دا چه د روزنی
خوارۍ ئې پر موږ باندی تیریږی
او د ژوندون اړۍ به د نورو
د سره کوی .

۳- هغه بیت چه پخوا ولوستل
شو هم د ځان دلیل بولی چه یوه
پیغله ښځه د یوه با ناموسه
ننګیالی تبره څخه بیول د سر
په ښند نه اړه لری هر څوک داسی
کار نشی کولای .

ډیر ځلی لیدل شوی دی چه
د زوم تبر د لوړی کورنۍ څخه
وی وړاندی تر واده د ناوی د
کلی مشران وګوری په ټینګه
سره خواهش ځنی وکړی چه
موږ به په ډبرو نه ولی هغوی هم
د دوی خبره منلی وی بیا هم کوم
وخت چه واده شی ناوې سپره شوه
د دوی لاس نه دی دریدلی خامخا
ئې د ورا باڼو پر شا او نورو غړو
باندی کاڼی مښتی دی .
او که چیری د دوی کلی ته
د بل کلی څخه ناوې راوړه
کیده هغه نه ولی او په خپل کلی
کی چه د یوه کوره بل کور ته
ناوې وړی هغه هم نه ولی .
ځکه نو امکان لری چه دا
پورتنی درې قانونه به رشتیا
وی او یا دا چه ځینو وګړو د
ځانه ویلی دی او نور ئې هم
تکرار کوی .

# والاحضرت شهزاده گی مریم دخپل میړه

## ښاغلی سردار محمد عزیز «نعیم» سره دلوړو تحصیلاتو په غرض واروپاته رهی سول

کابل: حمل په ۱٤ نېټه والاحضرت شهزاده گی مریم دملالی دلیسی فارغ التحصیله دخپل میړه سردار محمد عزیز «نعیم» دحقوقو او سیاسی پوهنځی فارغ التحصیل سره دشوروی اتحاد دلاری دلوړو تحصیلاتو په غرض واروپاته رهی سول ددوی دمخی ښی دپاره والاحضرت شهزاده گان او دسلطنتی جلیلی کورنۍ غړی او دعظمی صدارت کفیل ښاغلی علی محمد د کابینی غړی وهوائی ډگرته ورغلی وو.

والاحضرت شهزاده گی مریمی د ۱۳۳۹ کال دقوس په ۳ ورځ د خارجه چارو دوزیر د زوی ښاغلی محمد عزیز «نعیم» سره دهمایونی معظم اعلیحضرت په حضور کښی ازدواج کړیدی. باختر

# ښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم

## تر علاج وروسته په خیر کابل ته راغی

کابل: ښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم او محترمه میرمن ئې دحمل په ۱۹ ماښام پر ٦ بجو او ۱۰ دقیقو په الیوشن ۱۸ مخصوصه الوتکه کې د کابل هوائي ډگرته راورسېدل دالوتکو پرډگر والاحضرت شهزاده محمد نادر؛ والاحضرت مارشال شاولی خان غازی د کابل فاتح، د سلطنتی لوئی کورنۍ ځینو غړو، دملی شوری رئیس دصدارت عظمی لمړی معاون ښاغلی علي محمد، د خارجه چارو وزیر دصدارت عظمی دوهم معاون ښاغلی سردار محمد نعیم، دسلطنتی دربار وزیر د کابینی غړو، لوی درستیز، د کابل والی، د کابل ښاروال؛ لویو لویو عسکری او ملکی مامورینو، د کورډیپلو ماتیک هیئت او په کابل کی اوسیدونکی پښتونستانیانو وښاغلی صدراعظم ته هر کلی وویل. ښاغلی صدراعظم د الوتکی څخه دراکښته کېدلو په وخت کی دوالاحضرت شهزاده محمد نادر، والاحضرت مارشال شاه ولی خان غازی د کابل فاتح دصدارت عظمی دمعاونانو، د ملی شورا د رئیس او لوی درستیز سره روغبړ وکړ او داحترام گیارډ ئې وکوت او وروسته دهر کلی کونکی د صفو فو خواته ئې تشریف یووړ او د ټولو سره ئې روغبړ او پوښتنه وکړه. ښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم دجدی دمیاشتی په ۱۳ نېټه دعلاج دپاره وروم

(نور په ۲۸ صفحه کښی)

ته تللی او دملا په شمزی کی ئې په کامیابی سره ترجراحی وروسته د شوروی اتحاد صدراعظم ښاغلی نیکتا خروسچف په خصوصی بلنه وماسکو ته تللی او هلته ئې دخپل څلورورځنی استوګی په دوران کښی د شوروی صدراعظم ښاغلی نیکتا خروسچف او نورو لوړو مامورینو سره ددواړو مملکتو پر بین المللی علاقی وړ مسائلو او د پښتونستان دمسئلی په باره کی خبری وکړلی.

داونو کوا هوائي ډګر ته ښاغلی خروسچف دوزیرانو دشوری درئیس لمړی معاون ښاغلی الکسی کوزیجن ، دشوروی اتحاد د ملتو د دشوری دخارجی چارو د کمسیون رئیس ښاغلی نورالدین محی الدین اوف: دخارجه چارو وزیر ښاغلی ګرومیکو او نور لوړ مامورین دښاغلی صدر اعظم سردار محمد اؤد دمخی ښې دپاره راغلی ؤ .

باختر آژانس وائي چه دښاغلی صدراعظم صحت بیخی ښه او روغ دی . باختر

# د شوروی اتحاد

## عالمانو ترټولو لمړی فضائي بېړی دانسان سره واستوله او په بریالیتوب سره ئې روغه رمټه را کښته کړه

ماسکو: دنړی لو یه فضائي بېړی چه «وستوک» نومېږی او انسان پکښی ؤ د شوروی اتحاد له خوا څخه دحمل په ۲۳ نېټه دمځکی په چار بیره

(نور په ۲۹ صفحه کښی)

# د پښتونستان

## ملی زعیم خان عبدالغفار خان بیا بندی شو

د حمل په ۲۳ نېټه د پښتونستان ملی زعیم ښاغلی خان عبدالغفار خان دپاکستان دحکومت د چارو دواکمنو لخوا یو ځل بیا دشپږو میاشتو دپاره بندی کړه شو د پاکستان د استعماری حکومت ددغه ظالمانه اقدام خبر پخپله د کراچی راډیو دحمل په ۲۳ سهار خپور کړ او زیاته ئې کړه چه دی دامنیت د قانون په اساس چه په ۱۹۶۰ عیسوی کال کښی نافذشویدی دخلکو دطبقو ترمنځ د کرکی دپیدا کولو او دمملکت پرضد دعملیاتو په ګناه بندی شویدی .

# ښاغلی سردار

## محمد داؤد صدر اعظم دشوروی اتحاد وصدراعظم ته و خارجی

### فضا ته دانسان دلېږلو په سبب دمبارکی تلګرام مخابره کړ

کابل: دحکومتی باوری منابعو داطلاع سره سم دافغانستان صدراعظم ښاغلی سردار محمد داؤد ددغه خبر تر ارویدو وروسته دشوروی اتحاد د وزیرانو دشوری درئیس ښاغلی نیکتا خروسچف په نامه دمبارکی تلګرام لېږلی او په هغه کی ئې د شوروی اتحاد د پوهانو روښانه کامیابی ستایلی ده.

د گرزیدلو دپاره وتوغول شوه او ددغی ورځی په ۱۲ بجو او ۲۵ دقیقو پر هغه ځای چه پخوا ورته تاکل شوی ؤ روغه رمټه راکښته شوله . ددغی بېړۍ چلوونکی د شوروی اتحاد د خلکو څخه میجر یوری الکسویچ گاکارین پیلوټ ؤ ، دغی بېړی د هغه سړی سره چه پکښې ؤ ۴۷۵۲ کیلو گرام درونډوالی درلود ددغی بېړۍ داوزن د مرسلی دوروستی مرحلی د وزن څخه په پرته ؤ . له مځکی څخه ددغی بېړۍ ډیر لږ واتن ۱۷۵ کیلو متر اولیری واتن ئې ۳۰۲ کیلو متر او د خط استوا سره ئې دمیلان خوا په ۶۵ درجه او ۴ دقیقو کی ؤ پدغه الوتنه کی ددغی بېړۍ او مځکی ترمنځ دوه طرفه را ډیو ئې ارتباط قائم ؤ . وستوك څخه د لنډی څپی فریکوپنس ۱۹-۹' او ۲'۰۰۶ میگرهریسټ ؤ د گاکارین وضع پدغه بېړۍ کی د تلویزیون د یوه سیستم په واسطه تر مراقبت لاندی وه گاکارین په فضائي کښتۍ وستوك کی پر مځکی ښه گرځیدنه وکړه کومی دستگاه وی چه پدغه بېړۍ کی دانسان دعادی ژوند دتأمینولو دپاره ایښوولی شوی وی په عادی ډول سره ئې کار کاوه .

وستوك فضائي بېړۍ پر ۱۰ بجو او ۲۵ دقیقو پر مځکی دشاؤخوا اوچار پیر گرزیدو څخه وروسته پر ۱۰ بجو او ۲۵ دقیقو په راکښته کیدو شروع وکړه او دماسکو پر وخت دغرمی پر ۱۰ بجو او ۵۵ دقیقو چه د کابل په وخت ۱۲ بجی او ۲۵ دقیقی کیږی د پیش بینی شوی کتنو او د شوروی اتحاد دفضائي بېړۍ دالوتنی بېړۍ څخه وروسته پر هغه ځای کښته شوه چه ورته تاکل شوی وو میجر گاکارین چه د بېړۍ څخه کښته شو نو ئې ویل :

لطفاً گوند ، حکومت او ښاغلی نیکنا خرو سچف ته ووایاست چه زما د کښته کیدو عملیات سر ته ورسیدل . زه روغ یم زما کوم ځای گروزل شوی او یا زخمی شوی نه دی

مترجم محمدعلم «بڅرکی»

# تاریخ

## څه شی دی ؟

داسوال څونی ساده او واضح دی ، مگر ځواب ئې د ډیرو پیړیو راهیسی داختلاف سبب گرزیدلی دی ، که چیری د تاریخ زده کونکی تاریخ ته دساینس درجه ورکوی ، نو طبیعی فیلسوفان سمدستی د اعتراضاتو پیل پر کوی . او وائي چه تاریخ دخرافاتو بیان دی . او هیڅکله نه پریږدی چه تاریخ دساینس درجه حاصله کړی ، د ساینس علما فکر کوی ، چه تاریخ یو ناپاك او ککړ علم دی چه دعلم په مکتب کی په هیڅ صورت نسوای داخلیدلی دبلی خوا علما دعوه لری چه تاریخ دنورو طبیعی علومو په شان یو طبیعی علم دی ، مگر دادعوه کومه قطعی فیصله نده

(نور په ۳۰ صفحه کښی)

خارجی فضا ته د گاکارین تگ دبشر په واسطه دفضا د تسخیر دپاره دروښانه آیندی دپاره لار پرانیږی . باختر

تر هغه وخته پوری چه موږ دساینس او تـاریخ پوره او مـکمل تعریف ونـکړو داسوال بی معنی دی، چه آیا تاریخ په ساینس کښی شـامل دی که نه ؟

دساینس تعریف خلـک داسی کوی، چه ساینس دهغه پوشانته حقائقو مجموعـه ده چه دهغه څخه یو عام اصول یا قانون ولاس ته راځی دا سی قانون چه موږ ددی قابل کړی چه په یقین سره وویـلای سو، چه په مخصوص حالانو کښی پوشانته حوادث یو قسم اثر پیدا کوی .

دساینس ددې تعریف څخه لاړدا کستن ورو سته سوال کیدای سی، چه آیا تاریخ څه شی دی ؟

آیا تاریخ ساینس دی؟ که چیری موږ دتاریخ تا کلی او خاص تعریف ونـکړو او ددې خبری پرثابتیدو زور واچوو چه تاریخ ساینس یا ارټ ثابت کوو ؛ نو به ددیرو مشـکلانو سره مخامخ سو ، چه دهغه څخه وتل څه آسانه کـار نه دی ، او کـه چیری فرضاً دمشـکلانو څخه ووزو هم دتاریخ په باره کښی یو علمی مفـکوره ولاس ته نه راځی نو دپاره ددی چه دا بحث آسانه او قابل دپوهیدو سی ؛ لازمه ده ، چه د تاریخ ترتعریف وروسته هغه تعریف دلاړدا کستن پرتوضیح تطبیق کړو ، نتیجه به پخپله واضح او ښـکاره سی .

که موږ تاریخ دحادثاتو جریان وبولو گویا موږ تاریخ د تـاریخ جوړو نـکو دژوند سوانح وبللهٔ اوداښـکاره خبره ده چـه پواځی داسـکـندر ، سیزار ، چنـگیز ، هلاکو حالات او یاددوی دکار نامو اغیزی موږ ساینس نسوای بللای . او کـه چیری موږ وهغه کتابو ته ساینسی ووایو ، کوم چه معاصرو خلـکو ایـکلی وی نو آیاداویلای سو چه تـاریخ یو ساینس دی ؟

هیڅـکله موږ نه سوای ورته ویلای، ځـکه چه سر گـذشت او وقایع نـگاری آرټ دی، او ددی ارټ نوم تاریخ ندی بلـکه دتاریخ لیـکنه ده ؛ ددی څخه دا ثابته سوه چه کـه موږ تاریخ دزمانی رفتار وبولو او یـادا ومنو چه تاریخ وقایع نـگاری ده، بیاهم موږ تاریخ نه ساینس نه سوای ویلای، تاریخ په اصل کی یوداسی عمل دی چه دنـکنه چینی په واسطه سړی تـه علم ورکوی . په دی تـعریف سره ویلای سو چه تاریخ ساینس دی دنـکنه چینی څخه مراد دحال تشریح ده تاریخ دطبیعی علومو څخه یو بیل او جلا علم دی دا علم دتجربو او مشاهدو علم ندی بلـکه دتاریخ علم دنـکنه چینو چه ددې نـکنه چینو څخه یو عام اصول یا قانون ولاس ته راوړو او ددې قانون په واسطه موږ دذې قابل کیږو چه په یقین سره وویلای سو چه په مخصوص حالانو کی پوشانته حوادث په یوه ډول اثر پیدا کوی .

دمصر دفرعونانو او دفرانس دبور بونیانو په منځ کښی په زرو کـلونه حائل دی ، مگر ددوا ړو ملـکود مـلا کی (زمینداری) نظامونه یو شانتی نتیجی پیدا کړی .

﴿ نور بیا ﴾

د پښتونستان ستر زعیم ښاغلی خان عبدالغفار خان
چه د پاکستان د استعماری حکومت له خوا بیا په شپږو
میاشتو بند محکوم شوی دی
نو ځکه د افغانستان او پښتونستان دولسونو احساسات
ئې جریحه داره کړیدی .

# KANDAHAR

MONTHLY MAGAZINE

OFFICE:-

PRESS DEPARTMENT

KANDAHAR, AFGHANISTAN

EDITOR M.A-KARZI

APRIL 21, 1961

GOVERNMENTAL PRESS